مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور ۲۰۲۶/۰۶/۰۴

# مـوږ لـیدلی نـه دی مساوات به ښومره ښکلی وي!؟

فقر کې سـخـا او خرابات به څومره ښکلی وي!؟
ما ورکړی نـه دی دا ذکات به څومره ښکلی وي!؟

دا ښکلـي نـړۍ ده نـقل شـوې له هـغـې دنـيـا
ژوندچې دومره ښکلی دی وفات به څومره ښکلی وي!؟

جـوړې پـرې د وېـرې او امېـد منـدې رامنډې وي
پـل د حـاجـرې او عـرفـات بـه څـومـره ښـکـلی وي!؟

خپور کړلو اسلام خو اوس یې کفر کې ځای ونیوه
مـوږ لـیـدلی نـه دی مساوات به څومره ښکلی وي!؟

زړونه چې د زړونـو پـه درزا پـه درزېـدو راشي
داسې پټ په پټه ملاقات به څومره ښکلی وي!؟

اوښکې ملـغـلـرې چـې د بل په غم کې ورغړي
دا د لېونی مینې سوغات به څومره ښکلی وي!؟

زه یې مـاتـومـه د ښـکـلا د سـتـر خالق پـه نـوم
وايي غزنوي چې سومنات به څومره ښکلی وي!؟

ربـه پـه وجـود کې مـې مادي بـرخـه بـدرنـګـه ده
ته چې ترېنه پاک یې نو ستا ذات به څومره ښکلی وي!؟

غاښ د عـبـیـده دې شـې ستا لار کې د باور وجـود
روغ نه به هم ښه ښکاره شي مات به څومره ښکلی وي!؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ